مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمد انور آخړ
۲۰۲۰/۰۳/۲۱

# د حضرت علي جسد د مزار شريف له زيارت ځخه پورته شوی

## او د غوربند سيمې ته راغلی دی

## لومړی برخه

د نوي کال د لومړی ورځې (نوروز) او د بلخ د مزار شريف د حضرت علي د تش په نوم مړيستون په اړه مو په خوا (د نوروز ورځ ناروا ده، که د حضرت علي تش په نوم مړيستون لمانځنه؟) ترسرليک لاندي ليکنه کړي وه، د اړونده موضوع په اړه نوي مالومات د مرحوم محمد اديب افندي(چې د پاچا امان الله خان له نږدې او باوري کسانو څخه ؤ) له سفرنامي (د بخارا يونليک) څخه په لاس راغلي دي چې ښاغلي ولسمشر اشرف غني ته ډالی شوي او لومړی توک يې له عربی ژبې څخه مومند آخړ پښتو ته اړولی او لا کار پرې روان دی، مرحوم محمد اديب افندي (د نورو ډېرو نويو مالوماتو تر څنګ) د حضرت علي د تش په نوم مړيستون په هکله خورا په زړه پورې مالومات او د جاهلو کسانو د ناوړه ګروهي په تړاو خواشيني څرګنده کړي ده او افسوس کوي چې ولې زموږ خلک د مشرکينو په څېر ګروهي لري مرحوم افندي زياتوي چې په بلخ کې د حضرت علي زيارت د سلطان حسين ميرزا له خوا (چې له ترکانو سره په شخړو کې ښکېل ؤ) د سياسي موخو په خاطر جوړ شوی دی. لاندې مالومات د مرحوم افندي له يونليک څخه کټ مټ نقلوم په دې هيله چې د ښاغلو او آغلو لوستونکو د پام وړ وګرځي:

افسانې بله افسانه وزېږوله

د افغانانو، بخارايانو او ترکمنو يو عجيب باور داسې دی چې د لومړنيو(راشدينو) خلفاوو څلورم خليفه حضرت علي رضي الله عنه تر وژلو وروسته د خپلې اوښې په وسيله افغانستان ته راوړل شوی دی چې بيا (بلخ) ته نږدې د اوسني (مزار شريف) په ښار کې خاورو ته سپارل شوی (چې وروسته به د مزار شريف د ښار په اړه په تفصيل وغږيږو چې د افغاني ترکستان مرکز دی.)

سره له دې چې د حضرت علي جسد په نجف کې خاورو ته سپارل شوی، خو يو بل دروغ چې خوارجو جوړ کړي دا دي چې وايي: د حضرت علي له مړيستون څخه اوږدې پيړی تېرې شوی وې چې ورک او نامالوم ؤ خو وروسته[د حضرت علي له خوا] اجازه ورکړ شوه تر څو مړيستون يې مالوم شي نو د دې ځای[د بلخ د خواجه خيران] منجاورانو داسې ادعا وکړه چې کله ځينو کسانو هلته ځلوېښت شپې تېرې کړې نو د دوی حاجتونه پوره شول او دا شهادت يې ورکړ چې د نوموړي مړيستون دلته [د بلخ د خواجه خيران په کلي] کې شتون لري چې کوڼ، برګ (پيس) وهلی، ړوند او ګوزڼ وهلي ناروغان ورسره رغيږي. دغه ځای داسې ځانګړنې درلودې چې اړمنو کسانو، ناروغانو او بېوزلو باور وربانديې درلود.

عجيبه دا ده چې د علي رضي الله عنه د مړيستانه له پيدا کېدلو څخه چې له کومې معجزې پرته مونډل شوی دی تر اوسه داسې څوک نه دي پيدا شوي چې د دې دروغو مخنيوی وکړي او لا هم د پسرلي په لومړی ورځ په زرګونو کسان د مزار شريف ښار ته راځي، ځلوېښت شپې په هغه ځای کې د دښتې په شګو کې په وينه تېروي تر څو بدمرغی يې لېرې کړي، داسې فکر به وکړې چې[د خلکو کنه ګونه] څپانډ سمندر دی.

ځينې خلک له علي څخه شفا غواړي، بل شتمني غواړي او بل يې هم ځواک او پر دېمن د برلاسی هيله لري، افسوس چې مسلمانان څومره د جهالت کندو ته لوېدلي دي، د قرآن او اسلام له صريحو اوامرو سره په مخالفت کې ښکېل دي چې وايي: بې له خدايه د بل چا وسيله کول بت پرستي او ګمراهي ده او الله تعالی په قرآن کې منع کړي ده. [قرآن د زمر سورت :۴۴-۴۳ آيتونه]

هو دا عقيده په مزار شريف او د علي رضي الله عنه په زيارت کې ډېره لوړې کچې ته رسيدلي ده چې د نوموړي کرامات بلل کيږي چې[تر اوسه] د عامو خلکو له اذهانو څخه نه ده له منځه وړل شوي خو په دې بې خبره نړی کې داسې کسان هم شته چې له دې لارې ښه ګټوره سوداګري کوي او د مسلمانانو له ساده ګی او ناپوهی څخه ناسمه استفاده کوي.



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکي په څير و لولئ

خبره داسي وه چي د هزاره مغولو له قبايلو څخه لسو تنو څو کاله وړاندې پرېکړه کړې وه چي له خپلو سيمو څخه نورو سيمو[غوربند] ته ولاړ شي، بيا يې د دوی څو کسانو د ړندو، کڼو، ګونګوالي او ځينو يې په نورو ناروغيو د اخته کېدو تظاهر وکړ، تر څو ټول خلک پر دوی د ريښتينو ناروغانو ګومان وکړي او څوک شک هم ورباندې ونه کړي. دوی همداسي وکړل او هغه خلک چي دوی يې په ګاونډ کي ورسره مېشت شوي وو داسي  دوکه کړل چي هيڅوک يې په چل پوه نه شول.

د تېرکال(۱۳۳۶ ه، ق) په مني کي [د دغو ټګانو] مشر چي د خلکو ترمنځ يې د پرهېزګاری، زهد او تصوف تمثيل کاوه وويل چي ده [حضرت] علي په خوب کي ليدلی دی او ورته ويلي يې دي چي په مزار شريف کي له خپل مړيستون څخه تللی دی، ځکه چي د هغه ځای خلک په ګناهونو او فسق کي اخته وو نو د ځان لپاره يې د (غوربند) په سيمه کي مړيستون غوره کړی او ټاکلی دی،[د ټګانو] مشر وويل چي خلکو ته به دا مړيستون وروښيي چي دوی د برکت او روغتيا لامل شي.

دغي شيخ هغه خلک راټول کړي وو چي د ده په کراماتو يې باور درلود او دغي[د غوربند] دري ته يې له ځان سره راوستلي وو چي موږ اوس په کې روان يو، همدارنګه له ټولو کليو څخه ډېر خلک هم ورپسي راغلي وو، نو هغو خلکو ته يې د دروغو د خوب جوړه کړې کيسه اورولي وه.

بيا چي کله خلکو ځمکه وکيندله په هغه ځای کي مړيستون ښکاره شو، نو پوښتنه يې مه کوه چي خلک څومره ورته حيران شوي وو، بيا چي کله هغه ړانده خپلي سترګي پرانيستي او ويې غړولي، يوه خوشالي دوه شوي او خلکو ته يې ويل چي علي يې پر سترګو لاسونه ووهل نو ځکه يې سترګي روغي شوې، دا دی اوس هر څه ويني، په همدې توګه ګونګ هم خبري پيل کړې او ژبه يې خلاصه شوه، همداسي شل کس هم چي هغه قبر لمس کړ نو پښې يې په خوځښت راغلي.

دلته د خلکو لېونتوب زور واخيست او پر هغو کسانو يې ورمنډې کړې چي د علي د لاسونو د لمس له امله يې روغتيا وربښلې وه، د دوی جامې يې ورڅېرې کړې تر څو د تبرک لپاره يې له ځانونو سره وساتي.

دا خبر نېږدې ولايتونو او پلازمېنې[کابل] ته په يوه ورځ او يا له هغې په څه[کمه او زياته ] موده کي ورسېد، تر هغې چي لوی او واړه، سړي او ښځې ډلې، ډلې د دې وچې درې پر لور ورمات شول چي د دغې عجيبه موندنې په لسمه ورځ له اويا زرو هم ډېر کسان تللي وو، زما په ياد دي چي هغه ورځ کابل له ځايي خلکو څخه تش ښکارېده.

خلکو به پر شيخ او د هغه پر پيروانو بې شمېره د سرو او سپينو نذرونه ښيندل او هغو لسو کسانو ته چي علي تبرک ورکړی ؤ د دې اجازه هم ورکړی شوي وه چي خلکو ته د طلايي سکو په بدل کي شفا ورکړي.

تر دې چي دا اسماني معجزه او که په سمه مانا يې ووايو له ناپوهی ډکه ننداره پر يوه ناوړه ناورين بدله شوه، داسي چي د تاريخ له سترو بدو پېښو بلل کيږي، کله چي په دې وچه دښته کي د ژمي ساړه مخ په ډېرېدو شو نو د زيارت کوونکو تر منځ بېلابېلې وباوې(ناروغی) ګډې شوې او لوږه هم په کې خوره شوه.

دا کار د دې لوبې د جوړوونکو د حماقت له وجي ترسره شو، دوی له دومره چالاکی او دومره ستري ادعا سره، سره ناسم وخت او ځای ټاکلی و. کله چي پاچا حبيب الله خان ته دا خبر ورسېد نو بې له ځنډه يې د دې نوي افساني د له منځه وړلو لپاره د ماليي وزير[محمدحسين‌خان مستوفی‌الممالک د خليل الله خليلي پلار] تر مشرۍ لاندې پوځي ټولي ولېږل، هلته يې خلک وليدل چي پر مړيستانه راتاوېږي، تيږې يې ښکلوي او له سترګو يې د عاجزۍ اوښکې څاڅي او ټول د شنه اسمان لاندې بې سرپناه پراته دي.

د دې دروغو جوړوونکي يې ونيول او په چاوديدونکو توکو (ډيناميتو) باندې يې هغه مړيستون والوزاوه، د خلکو د خورولو او خپلو سيمو ته د لېږلو امر يې وکړ، دې پوځي ټوليو خپل کار په زور تر سره کړ، خلک يې خواره کړل، دوکه بازان يې ونيول، د سيمي حاکم يې له دندې ګوښه کړ او هغه لس کسه يې پاچا حبيب الله ته راوستل او د دوی د ړيرو د کلولو او له هغوی څخه د ټولي کړې شتمنې د ضبطولو امر يې وکړ او د څېړنې لپاره يې بنديان کړل.

د کره پلټنو په پايله کي د شيخ خباثت او دوکه ماري څرګنده شوه، د نوموړي او د هغه پيروانو او د دوی کليوالو رښتيا[خبرې] وکړې چي عدالت سزا ورکړه خو اوس خلک د دې په تمه وو چي پاچا او د هغه د ماليي وزير ته به خدای ډېره لويه سزا ورکړي، نابېره داسي پېښه شوه چي په هماغه ژمي کي پاچا[د لغمان په کله کوش کي] ووژل شو او د ماليي وزير له دې امله[د پاچا امان الله خان له خوا] اعدام کړی شو چي مالي خيانتونه يې تر سره کړي وو، نو خلکو داسي فکر وکړ چي څوک د زيارت درناوی نه کوي داسي سزاګانې به ويني. خو الحمدلله چي تر اوسه بيا په هغه ځای کي کوم زيارت نه دی جوړ شوی. هو په خدای چي اسلامي ټولنه پر خپل دين او قرآن د ناپوهی دغي درجي ته رسېدلې ده!

محمد انور آخر

۱۳۹۹/۱/۱، ل، ل

نور بيا

---



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ